عبدالرحمن فرقانی

۲۰۱۵/۰۲/۱۴

# پاکستان.. د سولې رامنځته کول که د داعش میشت کول؟

افغانستان هغه هېواد چې تل د تاریخ په اوږدو کې د لوېدیځ ا و ختیځ د استعمار له نظامي یرغل سره مخ شوی، خو د دریو لسیزو راپدیخوا د داسې خونړیو جګړو او کشالو سره لاس اوګریوان دی، چې په لړ کې یې خپل ټولې معنوي او مادي شتمنۍ او سیاسي ثبات له لاسه ورکړې او په پای کې د تل پاتې سولې او سیاسي، اقتصادي او ټولنیز ټیکاو ته سترګې په لاره دی.

که څه هم چې د افغانستان دعظمت څخه په ډکو او لوړو غرونو د روسانو د ماتي او د سره لښکر تر وتلو وروسته د ډیموکراسۍ ټیکداران د المان په بون ښار کې سره راټول شول تر څو د افغانستان لپاره دډیموکراسۍ له اصولو سره سم یو ډیموکراتیک نظام رامنځته کړي، کوم چې د دوی په اند افغانستان ورنه محروم دی، هغه نظام چې افغانانو ته یو پرمختللی ، سوکاله او نیکمرغه ژوند په برخه کړي، هغه نظام چې د خلکو له اړخه د خلکو لپاره سوکالي، نیکمرغي او ..... راوړي، هغه نظام چې د دوی په اند د هېواد ټولو اتباعو ته په یوه ډول حقوق تضمین کړي!.

خو په حقیقت کې د هغو افغانانو په حق کې چې بشریت یې د کمونیزم له وحشت او بربریت څخه وژغوره، لویه جفا تر سره شوه، او نوموړي جفا دقیقا هماغه د دیموکراسۍ نظام ؤ، چې د بون په ښار کې د ډیموکراسۍ د ټیکدارانو په مشرۍ د امتیاز پاللو او مصلحت پاللو پر بنسټ د هغو کړیو څخه رامنځته شو، چې په افغانستان کې د نظامي ځواک څخه برخمن او یا په حقیقت کې د نظامي ځواک څخه برخمن وګڼل شول او نور هغه ډېر اړخونه چې په یوه ډول نه یوه ډول د افغانستان د ملت له جوړښتونو څخه شمېرل کېدل محروم پاتې شول. هغه کړۍ چې هغه مهال یې نظامي ځواک درلود او یا یې پټیله چې نظامي ځواک لري او یا د سمت، قوم او ژبې او مذهب پر بنسټ خپل نفوذ درلود د بون په حکومت کې مطرح شول. او هغه نورنظامي ځواکونه چې د اشغالګرو ځواکونو سره جنګېدل له دغه حکومت څخه محروم شول.

ډیری افغانان په دې باور دي، چې په بون کې د افغانستان لپاره د حکومت جوړښت په حقیقت کې د هغو بیوزله افغانانو پر وجود باندې یوه بله کړونکې ضربه وه، چې د کمونزم څخه د بشریت د ژغورتیا په موخه یې ستره سرښندنه ورانديکړې وه...که څه هم چې د ډیموکراسۍ تر شعار لاندې افغانستان ته د ډیموکراسۍ د پلېکېدو تګلاره او پروسه راغله, خو په حقیقت کې د رېښتني ډیموکراسۍ سره یې په زړګونو فرسنګه واټن درلود، په تېرو دیرلس کلونو کې ډیمکراسي په رېښتني توګه په افغانستان کې بنسټېزه نه شوه، ځکه چې ډیموکراسي د غیر مشروع یا په بل عبارت غیر قانوني لارې څخه افغانستان ته مخه کړې وه، تر اوسه لا د افغانانو زخمونه د روسانو د ظلم او ستم له کبله نه وو، روغ شوي، چې لوېدیځ د غیر مشروع لارې څخه د ترهګرۍ سره د مبارزې په پلمه راغي، د دیرلس کلونو له تېرېدو وروسته یې د ترهګرۍ شواهد د افغانستان له پولو بهر وموندل، او د لوېدیځ د ټولو امکاناتو سره سره افغانستان په دیرلس کلونو کې د ثبات او ټیکاو ځېښتن نه شو!.

پاکستان او د سولې بهیر په افغانستان کې..د ملي وحدت حکومت نوی پیل:

پاکستان چې د تروریزم سره په مبارزه کې د امریکا لومړی درجه ملګری ګڼل کېده، پخپله یې د بېلابېلو پلمو پر بنسټ په افغانستان کې خپل استراتیژیک او جګړیز عمق په وېرونکي ډول پلاټه، او تل یې د افغانستان د خلکو له برخلیک سره لوبې کولې. په تېرو دیرلس کلونو کې د افغانستان حکومت په مکرر ډول هلې ځلې په لاره واچولې ، تر څو یې افغانستان کې د تل پاتې سولې په ټینګښت کې د پاکستان ملاتړ تر لاسه کړي، خو په دې موخه بې وسه پاتې او په پای کې یې پخپله بې وسۍ اعتراف وکړ او د سولې کنجۍ یې د امریکا او پاکستان څخه تر لاسه نه کړه!.

د ګڼ شمیر سیاسي محللینو په اند، هغه څه چې وضعیت په دواړو اړخونو، د ډیموکراسۍ د بهیر دسمون په اړخ کې او د سولې د ټینګښت په اړخ کې په افغانستان کې سمولې شي، هغه د نوی حکومت تشکیل ؤ، چې ډېرو خلکو د ډیموکراسۍ د سمون او د سولې د ټینګښت لپاره یو رېښتنی فرصت ګڼلو. له همدې کبله د افغانستان په وروستنیو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ټاکنو کې د خلکو ګډون ډېر ښې ساریه ؤ، اکثریت ښځینه وو او نارینه وو په ټول ټاکنو کې د ګډون مظاهره وکړه. او په دې باور وو، چې هغه څه چې د بون په ښار کې په افغانستان کې د ډیموکراسۍ د تمثیل لپاره تر سره شوي و، به سم کړي. د ډیموکراسۍ بهیر به د سمون لور ته په حرکت کې کړي. خو له بده مرغه چې په دې اړه هم د ډیموکراسۍ لویو ټیکدارانو یو ځل بیا د افغانانو له برخلیک سره لوبه وکړه او د خپل هوس سره سم یې د افغانستان سیاسي برخلیک انځور کړ، د افغانانو زړورو رایو ته یې درناوی و نه کړ، د ډیموکراسۍ اړوند یې د افغانانو باور یو ځل بیا زیانمن کړ.

په هره توګه د ډیموکراسۍ د ارزښتونو او اصولو په خلاف د یوه سیاسي جوړ جاړي په پایله کې د ملي وحدت تر نامه لاندې حکومت را منځته شو، له کومه ځایه چې د افغاني ټولنې دهنیت ګڼ شمیر فشارونو دې ته چمتو کړی ؤ، تر څو هرهغه څه چې را منځته شي هغه د مجبوریت له امله ومني، خلکو دغه ډول یو حکومت چې په نړۍ کې د ډیموکراسۍ په چوکاټ کې تر دې وړاندې نه ؤ، پیژندلی ومني، کوم حکومت چې د حکومتدارۍ لپاره یې له وړاندې مشخص میکانزم او تصور شتون نه درلود او کېدای شي له همدې امله د حکومتدارۍ په چارو کې نوموړي حکومت اوسمهال له ستونزو سره هر شیبه مخ کېږي، ځکه د یوه نورمال دیموکراتیک حکومت لپاره له وړاندې د قانون د حکم سره سم مشخص تصور موجود وي، د صلاحیتونو او واکونو څرنګوالی پکې څرګند وي، خو اوس د افغانستان د ملي وحدت حکومت د حکومتولۍ د چارو لپاره څرګند تصور نه شته، د کابینې د تشکیل، د سلاکارانو د تقرر، څخه نیولې د واکونو او صلاحیتونو تر ویش پورې هر څه نوې او مجددې موافقې ته اړتیا لري.

د ملي وحدت د حکومت په راتګ سره د افغانانو سره نوي هیلې او آرزوګانې پیدا شوې، د سولې د ټینګښت څخه نیولې تر هر اړخیز سیاسي ټیکاو پورې، او ټول مني چې نوی حکومت د خپلو ژمنو سره سم د سولې د ټینګښت لپاره په سیمه ییزه کچه اغیزمن ګامونه پورته کړل، د ولسمشر د سفرونو تمځایونه په دې اړه ډېر دقیق او اغیزمن وو، څرنګه چې د ډېرو سره دا باور او یقین را ټوکېدلی ؤ، چې ګواکې د سولې لپاره سیمه ییز بستر چمتو شوی، خو آیا نوموړی بستر ریښتنی دی؟ او یا دا چې یوه بله خطرناکه لوبه د افغانستان د بربادۍ لپاره د پاکستان له لوری په لاره اچول شوې ده؟.

پاکستان.. د سولې ټینګښت که دې داعش د پروژې تطبیق؟

پاکستان چې د یوې اوږدې مودې څخه راپدیخوا د افغانستان سره د سولې په ټینګښت کې ریښتنې مرسته نه کوله، په دې وروستیو کې حاضر شوی، تر څو د سولې په تحکیم کې د افغانستان سره ریښتنې مرسته تر سره کړي او په دې اړه اغیزمن ګامونه پورته او ملموسې کړنې په لاره واچوي! د پاکستان استخباراتي موسسې په پرلپسې توګه د افغانستان سیاسي ادارې ته ډاډ ورکوي، چې د سولې په ټینګښت کې به له افغانستان سره ریښتنې مرسته کوي! خو کومه پوښتنه چې په دې اړه د هر افغان ذهن ته لاره مومي، هغه دا ده، چې څه شی لامل شوي، تر څو هغه پاکستان چې په هیڅ ډول نه حاضرېده، چې د افغانستان سره د سولې په راوستو کې ریښتنې مرسته ولري، په ټول عزم او یقین سره حاضر شوی ، تر څو د افغانستان له حکومت سره دحقیقي مرستې لاس اوږد کړي، د ښکاره بدلونونو د رامنځته کېدو څخه پرته څه باعث شول تر څو پاکستان په دې اړه خپل چمتوالی وښیي، او نوموړي بهیر ته لبیک ووایي!؟.

په سرکې مو د پاکستان په استراتیژۍ کې د دغه بدلون لامل په څرګند ډول نه شو موندلی، خو په دې وروستیو کې په سیمه کې ځینې بدلونونه د دغې استراتیژیک بدلون شواهد کرار کرار رامنځته کوي:

که لږ ځیر شو، په دې وروستیو کې د افغانستان په ځینو سیمو کې د داعش د حضور خبرونه د رسنیو له لارې په مستند او غیر مستند ډول خپرېږي، او د نوموړي حضور د تامین لپاره د هغو بهرنیو (بریتانوي)کړیو نمونه هم اخیستل کېږي، چې د طالبانو د ځینو کړیو سره یې له وړاندې اړیکې درلودې او د دې سره جوخت د لوېدیځ لوړپوړې چارواکې هم د دغه حضور تایید کوي ! .

د داعش د تشکیل او جوړښت اړوند بیلا بېلې شننې او تحلیلونه شتون لري، په پیل کې خو ډېری شننونکي په دې اند وو، چې د داعش پروژه یوازې د منځني ختیځ لپاره یوه سیمه ییزه پروژه ده، او بېلابېلې استخبارتي کړۍ نومړې پروژه خپلو اهدافو ته د رسېدو په موخه تمویلوي، خو اوس بیا دا تصور پر دې باندې کرار کرار بدلېږي، چې ګواکې دا د ټولې اسلامي نړۍ لپاره یوه واحده پروژه ده، او د داعش حضور په افغانستان او پاکستان کې دا وروستنی باور تاییدوي. په هره توګه موږ په دې لیکنه کې نه غواړو تر څو د داعش او د داعش د تمویل کونکو اهداف وڅېړو، بلکې موږ غواړو دې ته اشاره ولرو ، چې هسې نه چې پاکستان په افغانستان کې له یوه لوری د داعش پروژه تطبیق کړي او له بل لوری په افغانستان کې د سولې د ټینګښت په پلمه پر طالبانو شرایط سخت او


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

امکانات کم کړي، تر څو افغانستان ته راواوړي او په افغانستان کې د داعش په لیکو کې جذب شي، او د افغانستان حکومت د پاکستان کړني د سولې د ټینګښت لپاره وګڼي. او د پردې تر شا پاکستان د داعش پروژه لاسلیک کړې وي.
خو هغه څه چې موږ افغانانو ته په دې برخه کې متوجه کېږي، هغه زموږ خپل برخلیک دی، چې باید موږ پخپله خپل برخلیک وټاکوو، که بهرنیو ځواکونو په افغانستان کې خپل جګړیز ماموریت په سولې بیزو کړنو او د ښوونې او روزنې په چارو بدل کړی دی، نو موږ ته هم پکار ده، تر څو بین الافغاني جګړې ته د پای ټکی کېږدو، او له دې وروسته پخپل منځ کې د جګړې لاملونه وڅېړو، د پردیو د جګړو ابزار و نه ګرځو، پخپل منځ کې د تفاهم او روغې جوړې اسباب و پلټو او د پردیو د دسیسو او توطیئو ښکار نه شو، او د یوه متحد ملت په توګه د افغانستان لپاره د خدمت کولو جوګه شو.
الله تعالی دې افغانستان د معاصرو پیچلیو دسیسو څخه وژغوري، او د افغانستان پر ځورېدلي او کړېدلي ملت تل پاتې سوله ولوروي. امین یا رب العالمین.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ